# پښتو گرامر

پښتو نحوه گرامر،پښتو شاعران،دپښتو شاعرانو مختصر اثاراو دکانکور سوالونه



ترتیب : محمدالرحمن«وصال»

۱۴۰۳هـ ش


بسم الله الرحمن الرحیم

ډالۍ

دافغانستان کړيدلي ولس ته!

دکتاب نوم: **پښتو ګرامر**

ليکوال: **محمد الرحمن«وصال»**

کمپيوزر: **محمدالرحمن «وصال»**

دتاليف کال:........................................................................................۱۴۰۳هـ ش

پښتو ګرامر

## توري پوهنه «فونولوژي»

**فونو لوژي(غږپوهنه)**: هغه علم ده چې دارژبښتناکو تورو (غږونو) څخمه بحث کوي.

**ګرامر**: ګرامتیک جوړښت په معنی ده چې ژبه دساینس له نظره تر څېړنې لاندې نیسي.

ګرامر ډولونه:دری ډوله ده (۱)کلاسیک (۲)پرتلیز (۳)تشریحي

**پښتو اصلي توري**:دپښتو اصلي توري اته دي،[ټ،ځ،څ،ډ،ړ،ږ،ښ،ڼ]

**دپښتو مخصوص توري**: دپښتو مخصوص توري څلور دي چې په فارسي ژبه کې نشته،[ځ،څ،ښ،ڼ]

**درانه توري**: دپښتو درانه توري څلور دي چې ډېل او غټ لوستل کيږي،[ټ،ډ،ړ،ګ،ڼ]

**نارينه توري:**
ا،ج،ح،ځ،د،ډ،س،ش،ښ،ص،ض،ع،غ،ق،ک،ګ،ل،م،ن

**ښځينه توري:**
توري:ب،ت،ث،چ،څ،خ،ر،ږ،ز،ژ،ړ،ط،ظ،فښ،هـ،ي،ې،ى،ئ،ۍ

**کومکي توري**:[ا،و،هـ،ي]

**عربي توري**:[ث،ح،ذ،ص،ض،ط،ظ،ع،ف،ق]

کومکي توري په دوه ډوله دي(۱)خوځنده (۲) مرستندويه

**خوځنده**

زورکی:شل،وچ،مچ...

زور:ور،غږ،غر....

زېر:عالم،کامل،ساحل...

پيش:تکامل،تجاهل...

غړوندي(سکون): پنځوس،درلود....

يو ځای کيدونکي توري:د نه يو ځای کېدونکو تورو څخه بغير نور توري يوځای کيږي.

نه يو ځای کېدونکي توري: ا،د،ډ،ذ،ژ،ر،و،ړ

(ء)د خوځنده الف کار کوي:جرائت،هيئت،قرائت...

| د ی ډول | حالت | تعريف | مثالونه |
|---|---|---|---|
| ی | نرمه | چې له مخې يې زور وي نارينه او مفرده ی هم ورته وايي. | لرګی،سړی،تنکی... |
| ي | څرګنده | تر مخه يې درونده او څرګند زېر وي جمعه ی هم ورته وايي زياتره په جمعه نمونو کې راځي. | دوستي،سړي،راځي... |
| ۍ | تانث | تر مخه يې زورکي وي او په پای کې يو کش ورکول کيږي زياتره په مونث نمونوپای کې راځي. | چوکۍ،خولۍ،کولۍ.... |
| ې | اوږده | چې تر مخه يې اوږد زېر وي دلوستلو په وخت کې په خوله لاندې خواته زور کيږي زياتره په مونثو نمونو مې راځي. | کې، |
| ئ | امريه | د امر په وخت کې راځي. | وخورئ،وچښئ... |

# جمله پوهنه «سنتیکس»

❖ **جمله** عربي کلمه ده معنی یې مجموعه او ټولګه ده او په اصطلاح کې دالفاظو او کلمو یو داسې ترکیب ده چې بشپړ معنی او مفهوم ولري.

جمله په دوه ډوله ده(۱)ساده (۲)مرکبه)

ساده جمله:هغه جمله ده چې یو مبدا او خبر څخه جوړ وي لکه،احمد راغی.

مرکبه جمله:هغه جمله ده چې مبدا او خبرسره نورې کلمې هم یو ځای شوې وي لکه،احمد سهار له بازار راغی.

جمله دوه برخې لري، مبدا او خبر

مبدا:دجملې خپلواکه مستقیله معنا لرونکې برخه ګڼل کیږي لکه،لمر راوخوت. په دغه جمله کې «لمر» مبدا ده.

خبر:دجملې بنستیزه برخه چې مبدا څرګندوي لکه،تیل توې شول په دغه جمله کې «تیل» مبدا او «توې شول» خبر.

**خبر په دوه ډوله ده اسمی او فعلی**.

اسمی:چې مبدا او خبرر یې اسمونه وي لکه،دکلي مشر خان میر ده.


فعلی:چې دخبر په برخه کې پوره فعلي ترکیب راغلی وي لکه،زه ښار ته ځم.

**ترکیب**:د دوو یا زیاتو خپلواکو او نا خپلواکو کلمو له ترکیب څخه عبارت ده او په دوه ډوله ده،اسمي او فعلي.

اسمي ترکیب:د ترکیب اصلي او اساسي برخه یې نوم وي دمبدا په برخه کې راځي.

فعلي ترکیب: د ترکیب اصلي او اساسي برخه یې دجملې دخبر په برخه کې راځي.

فقره:دجملې اساسي رکن ده مبدا او خبر دواړه یې لري.



جمله دمعنی له مخې

په دوه ډوله ده

خبري

هغه جملې دي چې د يو څيز حال او کيفيت بيانوي لکه،ملالی ميوند يو اتله ميرمن ده.

نا خبري

لاندې جدول کې مکمل تشريح راغلې ده.

حقيقي مثبته

اصلي او حقيقي پيښې بيان کوي لکه،زدکوونکي درس ولوست.

حقيقي منفي

حقيقت کې شتوالی ثابت نه وي د نفې ادات د کومکي فعل نه مخکې راځي لکه،زده کونکي درس نه لولي.

تاکيدي

ديو واقيعت د تائيد ،تاکيد،او تصديق لپاره راځي ادات ورسره يو ځای راوړل کيږي لکه،وطن خو په هر چا ګران وي.

## ناخبري جلمه

| د جملې ډول | تعريف | مثالونه |
| --- | --- | --- |
| امريــــه جمله | دويونکي موخه يکې ديو کار غوښتنه،امر،هيلې او اخطار په بڼه وي او په پای کې دغه نښنه ليکل کيږي (!). | درس ولوله! |
| پوښتني جمله | دويونکي موخه يکې پوښتنه او دمقابل لوري څخه د ځواب غوښتنه وي. | چيرته ځې؟ |
| تعجـبي جمله | دحيرانتيا ځرګندوي. | څومره ښه خلک دي! |
| تمنايــي جمله | غوښتنه او هيلې پکې نغښتې وي. | آرمان چې راغلې وې! |
| قسمــيه جمله | په يو کار باندې دخلکو باوري کولو لپاره په سپيڅلي ذات باندې قسم او لوړه کول. | په خدای چې ورځم! |
| غايبــيه جمله | د خير ښيګڼې ځرګندولو لپاره ويل کيږي. | څه الله دې مل شه! |

## کلمه پوهنه «مورفولوژي»

### ❖ کلمه

کلمه:معنی لرونکي لفظ ته کلمه وايي په دوه ډوله ده،(سربليون،ستربليون).

سربليون:هغه بې معنی توري چې دنوم دمخه راځي لکه،په، تر، يې، و... مثال،زه په کوټه کې يم.

ستر بليون:هغه ادات چې دنوم او يا جملې وروسته راځي لکه،سره، پورې، لاندې، څخه، پرته... مثال،تر ماښام وروسته راځم.

تاړي (وندونه):هغه تړلي مقيد مورفيمونه دي چې له آزادو کلمو سره پيوست راځي په دوه ډوله دي،مختاړي،ورستاړي.

مختاړي:د کلمې په سر کې راځي او په دوه ډوله دي،صرفي او کلمه جوړونکي مختاړي.

الف؛صرفي مختاړي:د نهي او نفي په وخت کې راځي لکه، مه خوره! ، نه وينم.

ب؛دکلمې جوړونکي مختاړي: لکه،پری،بې،در،خوا....

ورستاړي:دکلمې په اخير کې راځي او په دوه ډوله دي.

## ❖ اسم(نوم)

**اسم(نوم)** :هغه کلمه ده چي په یو پوره او ځانته معنی دلالت کوي لکه،سړی،لرګی،دیوال....

نوم په دوه ډوله ده، بسیط او مرکب

بسیط نوم: هغه نوم ده چي دیوی کلمي څخه جوړ وي او نوري توکي نه لري لکه، کټ،کور،کوټه...

مرکب نوم:هغه ده چي د دوو کلمو څخه جوړ وي لکه،فیل مرغ،پوهنتون،زړمتون....

نوم دمعنی له مخي په اته8 ډوله ده.

1. **خاص نوم**: هغه نوم ده چي دخاصو اشخاصو او شیانو لپاره په کارېږي لکه، احمد شا بابا، کابل،ننګرهار...
2. **عام نوم**:هغه نوم ده چي په عامو شیانو دلالت کوي لکه،احمد،جومات،موټر...
3. **شمېر نوم**:هغه نوم ده چي د یو شی یا شخص دشمېر ښودنه کوي لکه،دوه کسان، لس ورني اته کتابونه...
4. **جنس نوم**:هغه نوم ده چي دیو شخص په جنسیت دلالت کوي.
5. **مفرد نوم**:هغه نوم ده چي په یو شي دلالت کوي لکه،یو قلم ،یو کتاب...
6. **جمعه نوم**:هغه نوم ده چي په ډېرو شیانو دلالت کوي لکه،قلمونه،کتابونه،کورونه...
7. **مجرد نوم**:هغه نوم ده چي کوم شی په سترګو نه ږلیدل کېږي دلالت کوي لکه،عقل،پوهه،فکر،ویره،خوشحالي...
8. **معنی نوم**:هغه نوم ده چي په یو غېري محسوس شي یا پدیدي باندي دلالت کوي لکه، غم،اندېښنه،هیله...

نوم دجوړښت له مخي په دوه ډوله ده نارینه نوم ښځینه نوم.

نارینه نوم:هغه نوم یا صفت ده چي لاندي توري پکي راشي نارینه نوم بلل کېږي.

| نرمه(ی) | ځرګند (و) | نرم(و) | کوچنی(ه) | هغه نوم چي په پای کی اصلي توري راغلي وي،میز،لاس،غل.. |
|---|---|---|---|---|
| لرګی،سړی،وړوی.. | تالو،چاکو... | کندو،پلو... | تره،وراره،زړه.. | |

ښځینه نوم: هغه نوم یا صفت ده چي لاندي توري پکي راشي ښځینه نوم بلل کېږي.

| ځرګنده(ه) | ښځینه (ی) | الف(ا) | اوږد(و) | ځرګنده(ي) | اوږده(ې) |
|---|---|---|---|---|---|
| اسپه،لښته،سپینه... | هګی،ډوډی،خولی... | ژړا،خندا،ښوروا... | ښارو،پیشو،زانګو... | بیاتي،دوستي... | ادې،ناوې... |

**دنوم د جمعه کولو قاعده**

دنارینه نوم دجمعه کولو قاعده:مفرد مذکر نوم په پای کی د دغو تورو په راوړلو سره جمعه حالت ته اوړي،ي،ګان،یان،ان،ونه.

هغه مفرد مذکر نوم چي په (ی)ختم شوي وي دغه نرمه(ی) په ځرګنده (ي) بدلېږي او جمعي حالت ته اوړي.

| مفرد | ستوری | منګی | اغزی | بریالی | نوی |
|---|---|---|---|---|---|
| جمعه | ستوري | منګي | اغزي | بریالي | نوي |

**ښځینه نوم جمعه کولو قاعده**

دمفرد مونث نوم څخه د دغو ورستارو په راوړلو سره جمعي حالت ته اوړي.

هغه مفرد مونث نومونه چي په ځرګنده (ه)ختم شوي وي دغه (ه)په اوږده(ي) بدلیږي او جمعي حالت غوره کوي.

| مفرد | پانه | کته | پخه | پښه | چرګه | ژبه |
|---|---|---|---|---|---|---|
| جمعه | پاني | کتي | پخي | پښي | چرګي | ژبي |

## ❖ ادات

ادات:هغه کلمي ته وایي چي ځانته پوره معنی نه لري او یو کلمه له بلي کلمي سره تړي پرته له هغه جمله نه جوړیږي. لکه، له،ته،په..

زه کور ته ځم ،سلیم له کور راغی. ادات په لاندي ډولونو دي،

1. ارتباطي ادات، لکه: هسی،که ،څه،هم او داسي نور....
2. د عطفف ادات،لکه: او،که،یا او داسي نور....
3. اضافي ادات،(د) داحمد قلم.
4. تشبیهي ادات،غوندي،په څیر،په دود،په توګه او داسي نور....

## ❖ ضمير

ضميرهغه کلمه ده چې دنوم پر ځاى استعماليږي او د نوم د تکرار مخه نيسي لکه، هغه،دا،زه،دوی...

احمد راغی هغه راغی

شخصي ضمير:د لومړي،دوهم او دريم شخص لپاره کارول کيږي په دوه ډوله ده متصل اوو منفصل

1. متصل:هغه دی چې په خپلواک ډول نه کارول کيږي دنورو نومونو سره يو ځاى راځي لکه،مې،مو،يې،دې..
2. منفصل:هغه دي چې مستقل وي او له بلې کلمې سره يو ځاى نه وي لکه،زه،ته،دی،تاسي،دوی...

- ✓ ملکي ضمير:چې يو څيز ديو چا پورې اړوند بولي لکه،زما،ستا...
- ✓ استفهامي ضمير:د پوښتنې لپاره کارول کيږي لکه،څوک،چا...

## ❖ صفت(ستانوم)

صفت په خپلواک ډول نوم نه وي خو د نوم حالت څرنګوالى بيانوي لکه،سپين،تور،غټ،کوچنی...

اصلي ستاينوم:هغه ستاينوم ده چې ديو نوم اړوند حالت بيانوي لکه،ښه سړی دهر چا خوښيږي،سپيين سهار پسې توره تياره وي په دوه ډوله ده ساده مرکب.

## ❖ فعل

فعل هغه کلمه ده چې په يو زمانه کې ديو کار کول يا نه کول باندې دلالت کوي لکه،احمد به ځي،هغه لاړ،ملالی تللی ده...

فعل دوه برخې لري فاعل او مفعول کارر کونکي ته فاعل او چې کار په ترسره کيږي مفعول بلل کيږي لکه،احمد کتاب لولي احمد فاعل او کتاب مفعول ده.فعل دمعنی له مخې په دوه ډوله ده، لازمي فعل،متعدي فعل.

لازمي فعل: هغه فعل چې يوازې په فاعل پای ته رسيږي او مفعول نه لري لازمي فعل په تيره او ناتيره زمانه کې دجملې دفاعل لپاره ګردانيږي.
لکه،پلوشه لاړه،احمد راغی،زه ځم،موږ ځو....

متعدي فعل:هغه فعل ده چې د فاعل سربيره مفعول هم لري يا فاعل په تيره زمانه کې دمفعول لپاره ګردانيږي.
لکه، احمد خط وليکه، موږ اجمل وليده،...

دزماني له پلو د فعل ډولونه

1. تيره زمانه:هغه زماني ته وايي چې يو کار په تيره زمانه کې اجرا شوی وي لکه،احمد خط وليکه.
2. حال جاري زمانه: هغه زماني ته وايي چې يو کارجريان لري لکه، زه خط ليکم.
3. راتلونکی زمانه: هغه زماني ته وايي چې يو کار په راتلونکی زمانه کې اجرا کيږي لکه،زه به خط وليکم.

**دحال فعلونه**

| دفعل ډول | تعريف | مثالونه |
|---|---|---|
| متلق حال | هغه فعل چې اوسني وخت کې ديو کار سرته رسيدل په عادي او متلق ډول بيان وي او کار دوام ونه لري. | دشپې لولم،ښونځي ته ځم... |
| استمراري حال | ديو کار ترسره کيدل په حالت کې بيانوي. | باران وريږي،خط ليکم... |
| احتمالي حال | په اوسني زمانه کې ديو کار پيښيدل د تمنا،شرط او شک په ډول بيانوي. | ښايي لاړشي،کاشکې راشي... |
| امر حال | دويو کار سرته رسولو غوښتنه کول بيانوي. | وخورئ،کښينئ... |
| نهي حال | دويو کار د نه کولو غوښتنه کول بيانوي. | مه خورئ،مه ليکه،مه راځه... |
| مستقبل حال | ديو کار کيدل په راتلونکې زمانه کې څرګندوي دغه فعل د(به)ادات په زياتولو جوړيږي. | ته به وځښې،زه به لاړشم دوی به راشي... |

## ❖ قيــــد

قيد په يو جمله کې دفعل معنى څرګندولي رابښيي لکه، ناڅاپه راغی بيا ژر لاړ (ناڅاپه)او (ژر)دفعل قيدونه دي.

قيد په دوه ډوله ده اصلي قيد او غيري اصلي قيد.

**اصلي قیدونه**

1. دزمان قید:چې دوخت او مهال له مخې د یو فعل پیښیدنه راښیي لکه،اوس ،دمخه،هر سهار...
2. دځاي او مکان قید:چې دځاي او مکان له مخې دیو فعل پیښیدنه راښیي لکه،دلته،هلته،پاس،مخکې..
3. دتینګار قید:چې څرګندتیا او ټینګار له مخې دیو فعل پیښیدنه راښیي لکه،په ښکاره،په ډاګه،غاړه په غاړه...

**غیري اصلي قیدونه**

| متعدي قید | | لازمي قید | |
|---|---|---|---|
| تیر زمانه | ناتیره زمانه | ناتېره زمانه | تیره زمانه |
| مفرد نارینه:احمد ما یوخ پیژني.<br>مفرد ښځینه:احمد ما پخه پیژني. | مفرد نارینه:محمود زه یوخ پیژندلم.<br>مفرد ښځینه:محمود زه پخه پیژندلم. | مفرد نارینه:زه دروند دروند ګرځم.<br>مفرد ښځینه:زه درنده درنده ګرځم. | مفرد نارینه:زه دروند ګرځم.<br>مفرد ښځینه:زه درنده ګرځیدم. |
| جمعه نارینه:احمد موږ پاخه پیژندو.<br>جمعه ښځینه:احمد موږ پخې پیژندو. | جمعه نارینه:محمود موږ پاخه پیژندلو.<br>جمعه ښځینه:محمود موږ پخې پیژندلو.. | جمعه نارینه:موږ درانده درانده ګرځو.<br>جمعه ښځینه: موږ درندې درندې ګرځو. | جمعه نارینه:موږ درانده ګرځیدو.<br>جمعه ښځینه:موږ درندې ګرځیدو. |
| په پورته جملو کې یوخ دجملې دمفعول لپاره ګردانیږي. | | په پورته جمله کې (دروند) دجملې د فاعل لپاره ګردانیږي. | |

## لیک نښې . ، ؟

**په لیک کې لیک نښې ډیر ضرور دي که لیک نښې په لیک کې وضع نشي نو لیک مکمل غلطیږي.**

**لکه، څه مه،ودرېږه!**

**څه،مه ودرېږه!**

1. **ټکی(.)** : دجملې په پای کې راځي دجملې د پشپوړېدو معنی لري،تر لنډیز وروسته هم راځي لکه،ملګري ملتونو مؤسسه م.م.م
2. **سواليه (؟)** :دانښه دپښتنې په پای کې راځي لکه، رحمن بابا په کوم کال کې وفات شو؟
3. **ندایه(!)** :دخدابي جملې په پای کې راځي لکه،تاته وایم!، دحیرانتیا په وخت کې هم راځي لکه،اهو! څه ښکلی ګل ده.
4. **کامه(،)** :د جملې یا څو فقرې سره بېلوي لکه، زه چې کابل ته تلم،لاره خرابه وه. دکلمو د پرلپسې عطف په وخت کې هم راځي لکه،دافغانستان ولایتونه : کابل،پکتیا،ننګرهار،کندهار...
5. **ټکی کامه(؛)** :دا په اوږدو جملو کې داوږدو فقرو دبېلولو لپاره راځي تر (،)کامې ساحه لویه او تر (.)ټکي وړه ده لکه،ژمې چې دواورې له امله،لاره بنده شي،له یو ځای څخه بل ځای ته،په تلو راتلو کې خنډونه پېښیږي.
6. **شارحه(:)** :دیو موضوع دتشریح لپاره راځي لکه،خوشحال خان ختک لاندې اثار لیکلي:ستار نامه،باز نامه،سوات نامه او داسې نور...
7. **ګرښه(-)** :د معترضه جملې چې د کلام په منځ کې وي په سر او پای کې راځي لکه، زه نن-سره له دې چې ډیر مصروف وم-ستا لېدو ته راغلم.
8. **لیندۍ(())**:د توصفي هدفونو لپاره راځي لکه،(وګړپوهنه)انترپالوجي)یو ارزښتمنه رشته ده.
9. **لیندکۍ(«»)**دبل چا را اخیستل شوي مطللب یا وینا د لیندکو تر منځ لیکل کیږي لکه، استاد راته ویل «دکتاب په سمون کې دغور او ځیرکی څخه کار واخله».
10. **درې ټکي(...)**درې ټکي معمولا دیوې لیکنې څخه دکم شویو مطالبو پر ځای راځي او کله چې د فراګراف په پای کې راشي،نو بیا دجملې دختمېدو ټکې هم پرې وراضافه کیږي لکه، په افغانستان کې هر راز مېوې لکه: انار،انګور،منې،....؛هر راز غلې لکه: غنم،جوار،اوربشې،....
11. **درې ستوري(***)**دا نښه دیوې رسسالې دیوې برخې د سرته رسېدو او دبلې برخې دپیل کېدو په منځ کې راوړل کیږي.
12. **ولاړه کرښه یا سلش(/)** دغې نښې ته بېلونکي یا ممیزه هم وایي دا نښه د دفتري لېکنو او د هجري،شمسي،ممیلادي کلونو دبېلولو لپاره هم راځي.

لکه،**12/6/1403**


## لنډ ګرامري تعریفونه

1. حمد:دالله تعا الی ستاینی ته وایي.
2. نعت:د رسو الله (ص) ستاینې ته وایي.
3. مناجات:الله ج ته په پټه زارۍ او غذر کول ته مناجات وایي.
4. معادیات:پیسو او دولت ته مادیات وایي.
5. معنویات: هر هغه څوک چي علم او پوهه ولري لکه،قران کریم حفظ معنویات بلل کیږي.
6. متن:لوړی او نا هواري ځمکې ته متن وایي .
7. عبارت:دوه یا دری کلمې چي یو بشپړه معنی ولري .
ادب:ادب له هذب څخه اخیستل شوی معنی یې تراشلې ونه ده او په اصطلاح کې د بې غیبه په معنی ده.
8. لایر:یو ډول د موسقۍ اله ده چي سندرې به ورسره ویل کیدې
9. هنر:یو څیز باندې یو څه کمول یا زیاتول ته هنر وایي.
10. عدت:دیو کار تکرار ته عدت وایي.
11. ذهنیت:دمسائلو په اړه فکر او احساس کول ته ذهنیت وایي.
12. کلمه:دحرفونو مجموعی ته کلمه وایي.
13. انتولوجي(انتوګرافي):دبشري توکم دنژاد په باب علمي څېړنه کوي.
14. ارکیالوجي(لرغون پوهنه):د تاریخ په باب تاریخي تمدنونه،تاو تاریخي موجداتو پّ اړه علمي څېړنه کوي.
15. ژبپوهنه:هغه علم ده چي دیوې ژبې اصلي جوړښت تر څېړنې لاندې نیسي.
16. نحوه:عربي کلمه ده معنی یې لاره،روش،طریقه ده او په اصطلاح کې دګرامر هغه برخه ده چي په حمله کې دکلمو د ترکیب او ترتیب باندې بحث کوي.
17. اصطلاح:په لغت کې کرنې ته وایي.
18. املا:خپلې یا دبل خبرې سم لیکلو ته املا وایي.
39. ستراتژیکه ساحه:دغه اصطلاح هغو سیمو ته کارول کیږي چي د جغرافیه موقیعت له پلوه ډېره مهیمه وي.
40.

19. متلونه:لنډ خو له مطلب ډک جملې ته وایي.
20. انشاء:په لغت کې دنوې شي پیداکولو ته وایي او په اصطلاح کې په نظم یا نثر کې دخپلو افکرو بیانولو ته وایي.
21. مقاله:هغې لیکنې ته وایي چي لنډ وي خو د پنځو کرښوڅخه کم نه وي.
22. پراګراف:د جملې(لیکنې) یو ډول ده چي یو ځانګړی فکر بیانوي.
23. ارشیف:دعلم په ډګر کې ټول پخواني اثار،لیکنې او داسې نور تاریخي اثار پکې ساتل کیږي.
24. موزیم:ټول پخواني اثار په موزیم کې ساتل کیږي.
25. محاوره:په لغت کې خبر اترو ته ویل کیږي او په اصطلاح کې دوېونکې دخبرواترو اسلوب او طریقې ته محاوره وایي.
26. عقل:عقل دعقال څخه اخیستل شوی چي معنی یې تړل دي یا دیو شي سم درک کولو ته عقل وآیي.
27. فکر:ځانګړې پروسه ده چي مجهول پیداکوي.
28. شعور:پوهې ته وایي شعور انسان او حیوان دواړه یې لري
29. وجدان یا (ضمیر):د ذهن محکمه دوجدان او ضمیر په غاړه ده .
30. ابن سینا وایي:دخپل نفس معلم او د وجدان شاکرد ووسه.
31. کتاب:دعنوانونو مجموعې ته کتاب وایي.
32. شخصیت:دیو شخص د خصوصیاتو محموعی ته شخصیت وایي.
33. منځپانګه:په عنوانونو کې دننه نوټ ته منځپانګه وایي.
34. کیسه:دتیر وخت واقیعتونه یا یادونه بیانول که خیالي وي یا حقیقې .

35. صنعت:دخامو او لومړنیو موادو بدلول په داسې څیز چي دحلکو داستفادې وړ وګرځي.
36. اخلاق:خوې او خصلت ته وایي.
37. روسي ځاران:د رسیه واکمنانومشهورو څېرو څخه و،ځار د(تزار)په نامه هم یادیږي.
38. کرکتر:هغه شخص یا لوبغاړی چي د کیسې لیکوال یې دپیښو دبهیر پر مخ بیولو لپاره ټاکي.




| پښتو ادبیاتو تاریخي دورې | | | | |
|---|---|---|---|---|
| دوره | پیل او پای | شاعران | اثار | مرکزونه |
| لرغونې دوره | ۲هـ پېړۍ څخه تر ۱۱ هـ پېړۍ پورې ۱۰۰۰ کاله یې دوام وکړ. | بیټ نیکه،امیر کروړ... | ریګویدا،اوستا، | غور،مندیش،زمینداور. |
| منځنۍ دوره | ۱۰هـ پېړۍ له نیمایي څخه تر ۱۴هـ پېړۍ دریمې لسیزو پورې. | خوشحال خان خټک،رحمان بابا،محمد هوتک،حمید بابا... | ستار نامه،شاهنامه،پټه خزانه، | |
| معاصره دوره | ۱۳۰۰ هـ څخه شروع تر اوسه پورې. | پنځه ستوري او نور... | | |

## لهجې

### لهجه

لهجه هغه غیري معیاري بڼه ده چې یوازې دغړیدلو لپاره په کاریږي په دو ډوله ده،،وړه لهجه غټه لهجه

وړه لهجه دلوستو کسانو لخوا کاریږي.

غټه لهجه د نالوستو کسانو لخوا کاریږي په درې ډوله ده.

1. حتیځه لهجه:دا لهجه د ننګرهارى لهجې په نوم یادیږي په دغه لهجه کې (ښ،ږ)توری په (خ،ګ)تورو بدلیږي.
2. لویدیځه لهجه:دا لهجه د کندهارى لهجې په نوم یادیږي په دغه لهجه کې (ښ،ږ)توري په (ش،ژ)تورو دلیږي.
3. مرکزي لهجه:دا لهجه دمنځنی لهجې په نوم هم یادیږي دافغانستان په مرکزي سیمو لکه،غزني،پکتیا،لوګر،پکتیکا،...کې ویل کیږي.

فرعي لهجې

- وزیرو لهجه:لویدیځی لهجې په څیر ده (ښ،ږ)په (ش،ژ)بدلیږي.
- یوسفزیو لهجه:دا لهجه داصلي ختیځو لهجو په ډوله کې راځي.
- ختکو لهجه: په دغه لهجه کې (ښ،ږ)په (ش،ژ)بدلیږي.
- اجوړ لهجه: په دغه لهجه کې (غ،ت)په (ګ،خ)بدلیږي.
- احمدزیو لهجه:(ژ) په (ز) او (ش) په (س)لیږي.
- مومندو لهجه:دغه لهجه په دروند او ځیږ غږ ویل کیږي.
- وردګو لهجه:دا لهجه اصلي مرکزي لهجې په ډله کې راځي.
- خوګیانیو لهجه(و) په (ي) بدلیږي.
- افریدیو لهجه:(ا،ي) په (و) بدلیږي.
- کاکړی لهجه:(ژ) په (ز) بدلیږي.

## ادب او شعر

### 1. نثر

نثر:پښتو معاصر نثر له ۱۹۵۰ ع کال نه وروسته پراختیا وموندہ په پښتو ژبه کې لومړی نثر ابو هاشم سرواني«سالو وږمه»۳هـ پیړی کې لیکلي ده وروسته بیا سلمان ماکو «تذکرة الاولیاء په اوومه هـ پیړی کې ولیکه.

نثر په لغت کې دملغلرو شیندلو ته وایي او په اصطلاح کې هغه کلام چې وزن او قافیه ونه لري نثر بلل کیږي.

**مسجع نثر:**هغه نثر چې اخیري کلمې دخبرو یو شان وي مسجع نثر بنست پیر روښان په (۹۲۶-۹۸۵هـ ق) کال کې خیر البیان ولیکه.

**ساده او روان نثر:**دلسمي هـ پیړی وروسته دپښتو نثر لمن پراخه شوه او د ساده نثرلارښود خوشحال خان ختک ده «ستار نامه او بیاض»،عبدالقادر خان ختک «ګلدسته»،افضل خان ختک «تاریخ مرصع»،ګوهر خان ختک «قلب السیر» په ساده نثر لیکلي دي .

دلیکنې او طرز له مخې دنثرپه درې ډوله ده

1. ساده نثر:هغه نثر چې لفظي او معنوي صنایع پکې نه وي کارول شوی.
2. فني نثر:چې لیکوال ورسره خپل عواطف احساسات هم ملګري کړي.
3. ساده ولسي نثر:د خلکو په ژبه چې څنګه ویل کیږي هغسې لیکل کیږي.

پښتو پخوانی نثر په درې ډوله ده

1. **متکلیف نثر:**دا ډول نثر د باسواد قشر(لیکوال)لخوا دعربي او درې ژبو تر اغیزې لاندې لیکل شوی وي او دغه نثر غوره بیلګه د سلمان ماکو «تذکرة الاولیا» په ۶۱۲هـ کال لیکلی ده.
2. **مسجع یا قافیه وال نثر:**په دې ډول نثر کې لیکوال وزن لرونکی او مسجع کلمې دشعر دقافیه په څیر کارولې وي بیلګه یي په لسمه هـ پیړی کې پیر روښان «خیر البیان»او د اخوند درویزه«مخزن السلام» کتاب ده.
3. **ساده او روان نثر:**په دې ډول نثر کې نه سجع لیدل کیږي او نه د متکلفو نثرونو په څیر لفظي کرکیچ ښکاري بیلګه یي خوشحال خان ختک «ستار نامه» په ۱۰۷۶هـ کال لیکلی ده.

### 2. ادبي ټوټه:

**ادبي ټوټه:**دشکل په لحاظ دلنډو کیسو څخه وړه خو دمضمون په لحاظ هر څه پکې راټلای شي .

3. **لنډه کيسه:**په لويديځ ادبب کې (Short story ) بلل کيږي لنډه خو له داسې عناصرو څخه جوړه وي چې يو له بل سره تړلی او تر يو اغيزې لاندې وي

لومړی لنډه کيسه په غرب کې رامنځ ته شو د اډګارلن لخوا ۱۹ م پيړی کې پښتو ادب کې سيد راحت زاخيلي «کونډه نجلی»اردو کې پرليم چند لخوا افغانستان کې عبدالحی حبيبي وليکله .

4. **ناول:**ناول لاتني کلمه ده لغوي معنی يې نوي،تازه او عجيبه څيز ده اصطلاح کې هغه داستان ته وايي چې له لنډې کيسې څخه لوي خو له رومان څخه لنډ وي پښتو ادب کې لومړی ناول سيد راحت زاخيلي « ماه رخې» ۱۹۱۰م کال وکښ،افغانستان کې لومړی ژباړل شوي ناول د ويکتور هوکو(بيوزلان)ده پښتو ژبه کې لومړی ناول (پيټه مينه)برهان الدين کشککي ده.

5. **رومان:**فرانسوي کلمه ده معنی يې خيالي داستانونه او په اصطلاح کې هغه داستان ته وايي چې له ناول څخه اوږد وي.

6. **ادبي ليکونه:**هغه ليکونوته وايي چې په ځانګړي هنري بڼه ليکل کيږي.

7. **ادبي راپور تاژ:**هنري ادبياتو ځانګړی ژانر ده.دپيښې تعبير،تفسير،او تحليل په هنري ژبه راغلی وي.

8. **داستان:**حماسي ادب يو ځانته فورم ده لنډې کيسې څخه لوي خو له ناول څخه کوچنی وي.

9. **سفر نامه:**سفر کونکی خپلی خاطري دقلم په ژبه ليکي.

10. **طنز:**عربي کلمه ده معنی يې ناز،کرشمه،پيغور ده او په اصطلاح کې دهنري ادبياتو يو ژانر ده چې دليکوال اصلي مقصد نيوکه او انتقاد وي.

11. **ډرامه:**ډډرا يوناني کلمې څخه اخيستل شوی معنی يې قعل او عمل ده افغانستان کې لومړی ډرامه عبدالاکبر اکبر «درې يتيمتان»۱۹۲۷م کال وليکله او په

اصولوبرابره ډرامه اسلم خټک«وينو جام»۱۹۳۵م کال وليکله

ډرامه دموضوع له مخې په دوه ډوله ده تراژيدي(ژړونکی)کوميدي(خندونکی)

ډرامه دجوړښت له مخې په درې ډوله ده ۱؛ستيج ۲؛راډيو ۳؛تلويزون

درې برخې لري پيل،اوج اوپای

**نظم**

1. **نظم:** پيل په ۱۳۹هـ ق کال په پښتو کې رامنځ ته شو .

نظم په لغت کې ملغلرو پيلو ته وايي او په اصطلاح کې هغه شعر ته وايي چې وزن او قافيه ولري .

په دوه ډوله ده ملي او عروضي

**ملي نظمونه:** يوازې په پښتو ژبه کې موجد دي لکه،لنډۍ،ناري،بکتی،چاربيته...

2. **لنډۍ:**نور نونه هم لريي لکه،مسره،ټيکی،ټپه دپښتو ادبياتو شفاهي برخه ده ويونکی يې معلوم نه وي زياتره دښځو له خوا ويل کيږي دوه مسرې لري

لومړی مسره يې ۹سيلابه(څپې)لري دوهمه مسره يې ۱۱۳سېلابه لري.

**سيلاب (څپه،هيجا):**دحرفونو له حرکتونو څخه بحث کوي.

| مسره | ۱ | ۲ | ۳ | ۴ | ۵ | ۶ | ۷ | ۸ | ۹ | ۱۰ | ۱۱ | ۱۲ | ۱۳ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| **لومړی** | که | په | مې | وند | کې | ش | هيد | نه | شوې | | | | |
| **دوهمه** | خدای | ړو | لا | لـــ | ـــيه | بې | نن | ګې | ته | دي | سا | تی | نه |

3. **ناري:**ډېر ډولونه لري لکه،تاريخي ناري،اتڼ نارې،نکلونو نارې...

4. **بکتي:**يو سر يا پير لري سر يې دهر بند په پای کې تکراريږي دسر لومړی مسره يې اوږده او دوهمه يې لنډه وي.

5. **چاربيته:**اوږده اوږده حماسي اِو عشقي مضامين پکې راوړل کيږي يو سر لري او ورپسې بندونه راځي هر بند په پای کې قافيه تکراريږي .

6. **نيمکۍ:**سروکی يو ډول شعر ده له لنډيو سره ويل کيږي دوه مسرې لري.

عروضي نظمونه دپښتو سربيره په نورو ژبو کې هم راځي.

1. **شعر:**شعر په لغت کې نازک خيال ته وايي او د شعر په اصطلاح کې هر هغه کلام چې هنري ارزښت ولري شعر بلل کيږي شعر په دوه ډوله ده سپين شعر او آزاد شعر.

سپين شعر:هغه شعر ته وايي چې وزن او قافيه ونه لري دبيتونو وزن يې سره برابر وي خو دقافيه له قيد څخه ازاد وي.

آزاد شعر:هغه شعر ده چې قافيه پکې حتمي نه وي وزن يې دکومې ټاکلی بېلګې تابع وي.

2. **غزل:** په لغت کې د ښځو سره خبرو کولو ته وايي او د شعر يو اصطلاح کې ټول بيتونه يې په وزن برابر وي او ديو مطلع او مقطع لاندې ويل کيږي دغزل دبيتونو شمېر د ۵ څخه تر ۱۶ پورې رسيږي.
3. **رباعي:** رباعي معنی څلوريزه چې څلور بيته او اته مسرې لري دپند اوا نصيحت خبرې پکې راځي.
4. **مخمس:** عربي کلمه ده هغه شعر ته وايي چې پنځه پنځه مسرې لري .
5. **مسدس:** عربي کلمه ده هغه شعر ته ويې چې دوه مسرې لري او نيم بيت ته مسره وايي.
6. **قصيده(بولـــله):** لغوي معنی يې قصد کولو ته وايي او دشعر په اصطلاح کې هغه شعر ته وايي چې تريو مطلع لاندې ويل کيږي ۱۶نه تر ۲۰۰ پورې بيتونه لري .
7. **قطعه:** دوه ياتر دوو زيات بيتونه دي چې لومړي بيت دوه مسرو قافيه سره يو شی نه وی حو د بيتونو دويمې مسرې سره يوشی وي.
8. **مثنوي:** مثنوي کې ټول بيتونه ريو ډول قافيه نه لري هر بيت دواړه مسرو قافيه سره يوشی وي رزم،بزم او تصوفي موضوعات بيانيږي.
9. **مربع:** يو ډول شعر ده چې دوه دوه بيته لري.
10. **مستزاد:** يو ډول شعر ده چې يو مسره يې اوږده او بله لنډه وي.
11. **ترجيع بند:** دنظم هغه ډول ده جې قافيه يې مختلفې او وزن يې يو ډول وي بيتونو شمېر يې ۵نه تر ۱۰ پورې رسيږي.
12. **ترکيب بند:** دترجيع بند غونډې دی پرق يې بيل بيل بيتونه راځي او بيله قافيه او معنی لري.
13. **ژانر:** فرانسوي کلمه ده نوعه،ډول په معنی ده اروپا کې پخوا دغه درې ژانرونه موجد وو.

اپيک: حماسي ته وايي نظم او نثر دواړو کې راتلای شي لکه،هندي مهباراته مرسوس،افغانستان شاهنامه،ادم خان او درخانی،مؤمين خان او شيرينو.
ليريک: د لاير لاتني کلمې څخه اخيستل شوي دموسقي يو ډول اله ده عنايي اشعارو لپاره کارول کيږي.
ايپيک: اپيک کې مشهور ژانرونه دوه دي (تراژيدي،کوميډي)

## ❖ ولسي ادبيـــــــــات

منظوم ولسي ادبيات: منظوم ولسي ادبيات دوه برخې لري عامي سندرې،خاصي سندرې

عامي سندرې: هغه سندرې چې شاعر يې معلوم نه وي.لکه،ميندو سندرې،ماشومتانوسندرې،لنډۍ،نکلونه،کاکړی،منظوم فالونه،سروکی،تاريخي ناري.

عامي سندرې: هغه سندرې چې شاعر يې معلوم وي.لکه،رباعي،شعر،غزل،داستان....

منثور ولسي ادبيات: ولسي نثرونه هغه اوږدې او لنډې خوږې ويناوې چې په ولسي ډول رامنځ ته کيږي.

متلونه

متل او محارې دوه ځانګړې ډولونه (ژانرونه)دي. متلونه په دوه ډوله دي منظوم متل منثور متل

منظوم متل:

منثور متل:

**سبک:** سبک په لغت کې طرسقې او طرز ته وايي او په اصطلاح کې دنظم او نثر يو خاص ډول ده سبک په څلور ډوله ده.

روښاني سبک: دغه سبک دپير روښان (بايزيد روښان)لخوا رامنځ ته شوی اخلاقي ديني مضامين پکې ځای پرځای شوي.

تصوفي سبک: اخلاقي،عشقي،ټولنيزاو انتقادي مضامين پکې نغښتي دي،تصوفي سبک لارويان:پير محمد کاکړ،بيد اشنغری،رحمت الله داوي.

حماسي سبک: دا سبک په ادبي فنونو سمبال ساده روان او خواږه اشعار لري.

هندي سبک: ځانګړتيا،په لږو خبرو کې ډېرڅه رانغاړي،له ژند نه شکايت،له حده زياته مبالغه،دشعر په لوړتيا فخر کول،پيروان:کامکار خټک،کاظم خان شيدا،ملا محمد،بيدل،

### تشبيه

تشبيه: ورته ته وايي دا ورته والي به يا په بڼه کې وي يا په معنی کې. تشبيه پنځه رکنه لري.

1. مشبه: چېې دبل شي سره ورته يا تشبيه کيږي لکه،مخ له ګل سره.
2. مشبه به: چې دبل شي ورته والی يا تشبيه ورسره کيږي.
3. تشبيه وجه: هغه مشترک صفتونه چې دمشبه او مشبه به ترمنځ موجد وي.
4. تشبيه توری: هغه توري چې مشبه او مشبه به سره تړي لکه،هعسي،که،په څېر...

5. تشبیه عرض:هغه مطلب چې له تشبیه څخه اخیستل کیږي.

هیڅ مې نه زده محبت که اور دي دا　　په اور سوځم په رضا که زور دي دا

«محبت»مشبه «اور» مشبه به «که»تشبیه توری

دبادام په څیر مې زړه سوری سوری شي　　چې راپورته په غمزه سترګو باڼه

«زړه»مشبه «بادام »مشببه به په څیر د تشبیه کلمه «سوری سوری» د تشبیه عرض

چې ریبی مې بې صرفی دزړګي ولې　　کرې وروځې دي دیار که لور دي دا

«وروځې»مشبه «لور » مشبه به «کوږوالی » دتشبیه وجه

**مفروفه تشبیه:**چې په یو بیت او نیم بیتي کې دهری مشبې تر څنګ مشبه به راغلی وي.

لال دي شونډې غاښ ملغلرې　　خوله دي غونچه قند دي خبرې

«شونډې» مشبه «لال» مشبه به «غاښ» مشبه «ملغلرې» مشبه به

**ملفوفه**(**نغاړلې**) **تشبیه:** هغه تشبیه چې په یو بیت کې مشبه او په بله کې مشبه به راغلې وي.

تورې زلفې شنه خالونه سره رخسار　　شنه توتیان دي سره ګلان تور ښامار

«زلفې،خالونه،رخسار»مشبه «توتیان،ګلونه،ښامار»مشبه به

**نادر تشبیه:**هغه تشبیه چې په شاعرانو کې لږ استعمالیږي.

لکه خس دسیلاب خلاص له ګمراهۍ یم　　پر اوږو د رهبر سپور یم تر منزله

**مبتذله تشیه:**هغه تشبیه چې په شاعرانو کې زیاتت استعمال ولري.

مخ دي لکه ګل صنم　　زلفې دي سنبل صنم

«مخ» له «ګل» سره او «زلفي »له «سببل»سره تشبیه شوی.

**مجمله تشبیه:**هغه تشبیه چې د طرفینو تر منځ یې د تشبیه وجه لفظ نه وي ذکر شوی.

مخ دي لکه لمر ورته څیر کتلی نه شم　　څکه یې دمدمې له عهدو وتلی نشم

**مرسله تشبیه:**هغه تشبیه چې د تبیه ادات یا کلمې په بیت کې ذکر شوي وي.

ښامارونو غونډې ګرځې په کونجونو　　نشته هیڅ په زړه کې ډار دتورو زلفو

**موکده تشبیه:**هغه تشبیه ده چې دمشبه به ترمنځ دتشبیه ادات یا کلمې په بیت کې نه وي ذکر.

## ❖ قافیـــه

قافیه:قافیه عربي کلمه ده په لغت کې وروسته ته وایي او په اصطلاح کې دبیتونو ورستی هم اهنګی ته قافیه وایي دمصراع په پای کې راځي او تکراریږي.

کامله قدرت دتا دی　　نادره صفت دتا دی

قدرت او صفت دبیت قافیه شوه

**وزن:**دنظم اساسي رکن ده دڅپو شمیر ته وایي.

**دور:**په لغت کې پیر،دوران او حرکت ته وایي اوپه اصطلاح کې نظم له پیل څخه تر پای پوری یو دور لري.

روي:دقافیه هغه توری چې دهغه پرته قافیه همغږي نه راځي او په دوه دوله ده.

مطلق روي:که چېری دروي توری حرکت ولري مطلق روي بلل کیږي.

مقید روي: که چېری دروي توری حرکت ونه لري مقید روي بلل کیږي.

**ردیف:**ردیف تر قافیه وروسته په همهاغه یو لفظي او معنایزه بڼه بیا بیا تکراریږي .

هیڅ نقصان دساده حسن وجمال نشته

د افتاب په رخسار هم خط و خال نښته

چې بدل يې په کچکول دمهتاب خوان کړ

داعتماد دزماني په کمال نښته

نښلولی زماني په کوم سبب ښي

لکه ژبه خود زما پر وبال نښته

جمال،خال،کمال او وبال قافيه ده نښته د بيت رديف ده

---

## بيان علم(بديع) صنعت

---

بديع صنعت چا رامنځ ته کړ؟

**بديع علم په لغت کې نوي شي ته وايي او په اصطلاح کې هغه علم ده چې دهغه په واسيطه دکلام ښوالي وجه څرګنديږي.**

**بيان علم دعباسيانو په دوره کې رامنځ ته شو بيان علم په اړه دلومړي ځل لپاره (عبدالله مثنی)څيرني وکړې د نوموړي دزيږيدو نيټه نه ده معلومه خو د وفات نيټه يې(211هـ) کال ښودل شوی دعبدالله بن معتز لخوا وضع شو په کال (۲۸۴هـ) کې د (البديع) په نوم يو کتاب وليکل شو .**

### ❖ لفظي صنعت

1. **توشيح:** هغه ادبي صنعت ته ويل کيږي چې دبيتونولومړی توري سره يو ځای شي دهغه څخه يو نوم،بيت يا جمله جوړه شي.
2. **تجنيس:** هغه ادبي صنعت ته ويل کيږي چې شاعران په خپل کلام کې داسي کلمې راوړي چې شکل يې يو خو په معنی کې توپير ولري.

چې دچا په زړه کې اور دمينې بل شي          په اوربل يې لمبې ګډې حال يې بل شي

په لومړی بيت کې (بل) داړر لګيدو په معنی ده او په دوهم بيت کې ((بل) دبدل په معنی ده، او په لاندې ډولونه لري.

- تام تجنيس: هغه ادبي صنعت ته ويل کيږي چې شاعر په خپل شعر کې داسې دوې کلمې راوړي چط شکل يې يو خو په معنی کې توپير ولري.
  - فراق په ما خوري د زړګي وينې          اشنا مې نشته الله مې وينې
- په لومړی بيت کې (ويني) دويني په معنی ده او په دوهم يت کې(ويني) دليدو په معنی ده.
- ناقص تجنيس:شکل او معنی يو خو په حرکاتو کې توپير ولري.
- مرکب تحنيس: هغه تجنيس ته ويل کيږي چې يو کلمه يې بسيطه او بله يې مرکبه وي پهه دوه ډوله ده متشابه مرکب،مفروق مرکب.

3. **متشابه تجنيس:** هغه تجنيس چې بسيطه او مرکبه کلمه يې دواړه يو ډول شکل ولري.

ستا په مخ باندې اور بل دی          ځکه اوربل مې په ګوګل دی

په لومړی مسره کې (اوربل) دتندي ويښتان او په دوهم بيت کې (اور)او (بل) دوه مرکبې کلمې دي.

4. **مفروق تجنس:** هغه تجنيس چې بسييطه کلمه يې دبسيطې او مرکبه کلمه يې د مرکبې شکل ولري .

چې په سترګو چراغ ووينې په تنګ          څو ونه مري دژوندونه وي پتنګ

لومړی بيت کې (پتنګ)بسيطه او(په تنګ)مرکبه کلمه ده

5. **قلب:** په لغت کې سرچپه کولو ته وايي او په اصطلاح کې د دوو يا زياتو داسې کلمو راوړل دي چې توري يې په بڼه کې يو ډول خو په ترتيب کې اوښتي وي.

د دوران له انقلابه لا قا شي          اعتماد به دانا څه په اقبال کا

په پورته بيت کې لابقا په اقبال اوښتي.

6. **ترصيع:** عربي کلمه ده په لغت کې د جواهرو کېښولو ته وايي او په اصطلاح کې شاعر خپل شعر په څو برخو وويشي او هره برخه يې دبلې په مقابل کې راوړي .

څوک چې دنيا غواړي هغه رنځور دی          څوک چې عقبا غواړي هغه مذدوردی

7. **سجع:** په لغت کې دکوترې موذون اواز ته وايي او په اصطلاح کې دجملو ورستې هم اهنګي ته سجع وايي سجع په نثر کې راځي او دغه ډول نثر ته مسجع نثر وايي.

دخوار يا ژړا وي يا خندا

8. **تضمين:** هغه ادبي صنعت ته ويل کيږي چې شاعر دسند يا مثال په توګه يا د خپل کلام دتقوې لپاره د مضمون اړوند د بل شاعر دنظم يو ټوټه راوړي.

دا دنيا ده خدای له عشقه پيداکړې          دی چمن يه دې نشيم ده پرده سپړې

لومړی بيت د رحمان بابا او دوهم بيت د حميد مومند ده او دغه بيت حميد مومند تضمين کړی.

### ❖ معنوي صنعت

1. **سوال جوب:** هغه ادبي صنعت ته ويل کيږي چې شاعر په خپل شعر کې پوښتنې او حوابونه سره يو ځای کړي .
2. **ارسال المثل:** هغه ادبي صنعت ته ويل کيږي چې شاعر په خپل شعر کې يو مشهور متل راوړي .

چې اوربښې کړې کله غنم کيږي    دريښتيا چې څه کړې هغه به اخلې

3. **طباق:** دې صنعت ته د تضاد يا مقابل هم وايي که شاعر په خپل کلام کلام کې داسې کلمې راوړي چې يو دبل ضد وي لکه،تور سپين،شپه ورځ....

هر سهار سترګې دګل په اوښکو ډکې    په دا باغ کې بې ژړلو خندا نشته

4. **مراعات النظر:** دې صنعت ته تناسب او تلفين هم وايي که شاعر په خپل شعر کې داسې کلمې سره يو ځای کړي چې يو دبل سره تناسب او نژدې والی ولري.

که هر څو يې په تندي ږدی اړې زلفې    شانه نه پريږدي دمستې خورې زلفې

5. **حسن تعليل:** ههغه صنعت ته وايي چې شاعر دکوم وصف لپاره يو مناسب علط راوړي.

کعبې تور کميس اوغستې دې له غمه    مظلومان قرباني کيږي بې حسابه

په دې بيت کې شاعر دا دليل راوړی چې کعبې دمظلومانو دوژلو له امله تور کميس اغوستی ده.

6. **لف النشر:** هغه ادبي صنعت ته ويل کيږي چې شاعر په خپل شعر کې لومړی څو شيان ذکر کړي او وروسته هغه بيان کړي.

په ځان او په جهان کې ما دوه ځيزه دي وکښلې    په ځان کې دواړه سترګې په جهان کې واړه ښکلې

7. **مبالغه:** که شاعر په خپل شعر کې د يو شي وصف تر اندازې زيات بيان کړي مبالغه بلل کيږي او په درې ډوله ده.

- تبليغ: چې مدعا هم دعقل او د عادت له مخې امکان ولري.
  - له خوشحال سره که کيني يو څو کاله    دا دغره خټک به واړه شاعران شي
- اغراق: چې مدعا يې دعقل له مخې امکان ولري خو د عادت له مخې امکان ونه لري.
  - زه رحمان په زړه نرې کړم هغه انجونو    چې يې ملا ده د ويښته په دود نرې
- غُلو: چې مدعا يې دعقل او دعادت له مخې ناسونې وي .

بې له تا هسې ضعيف يم ګلرخسارا    پر حباب باندې که پښه ږدم نه ماتيږي

8. **تجاهل العارف:** هغه ادبي صنعت ته ويل کيږي چې شاعر ديو معلوم شي مجهول وګڼي سره له دې چې مطلب ښه پوه وي خو بيا هم دنزاکت لپاره ځان ناپامه واچوي.

دا بورا ده چې پر پاڼه دګل ناست دی    که پر مخ دګل رخسار ده توره زخه

9. **کيسی**(**لغز**): ديو شي خواص او نښې وښ،دل شي بيا د دغو خواصو اوږ نښو له مخې له مخاتب څخه د هغه شي دښودلو پوښتنه کيږي.

له پاسه راغی سور بلوڅ    اغوستی يې پڼه پنځوس

10. **تلميح:** تلميح په لغت کې په مالګه کولو ته وايي او په اصطلاح کې هغه شعر ته وايي چې شاعر په خپل شعر کې يوې مشهورې پيښې ته اشاره وکړي.

د دنيا په دښمنۍ کې عيسی وخوت واسمان ته    په دوستۍ کې يې لاړې تحت الثرا ته قارون هسې

11. **تکرارحسن:** هغه ادبي صنعت ته ويل کيږي چې شاعر دکلام دښه والي لپاره کومه کلمه تکار راوړي.

بيا راتله دې و جهان ته بل وار نشته    بل وار نشته بل وار نشته وار دې دا

12. **رجوع:** په لغت کې بيرته ګرځيدلو ته وايي او په اصطلاح کې هغه صنعت ته وايي چې شاعر يو مطلب ځرګند کړي ورسته ديو خاص عرض لپاره دخپلې خبرې ګرځي.

نه بخت دې دمغلو نه زما څه عقل کم دی    دا پيرى ده چې مې کار درهم برهم دی

13. **ذوالقوافي:** هغه ادبي صنعت ته ويل کيږي چې ديو څخه زياتې قافيې ولري.

چا دشرف ورکی دليلا نه حجاب لرى کړ    چا د ژوند سفر کې د حيا نه شباب لرى کړ

14. **المربع:** هغه نظم ته وايي چې يو شاعر يو رباعي داسې راوړي چې عمودي او افقي يو ډول ولوستل شي.

## پښتو شاعران او ليکوالان

| نوم | پلار نوم | پيدايښت کال | ځای | وفات کال او ځای |
|---|---|---|---|---|
| **عبدارحمن بابا** | عبدالستار | ۱۰۴۲هـ ق | بهادر کلې | ۱۱۲۸هـ ق هزار خان هديره کې |
| **خوشحال خان ختک** | شهباز خان | ۱۰۲۲ ق | پيښور اکوړا کلې | ۱۱۰۰هـ |
| **اشرف خان هجري** | خوشحال خان ختک مشر زوي | ۱۰۴۴هـ ق | پيښور اکوړا کلې | ۱۱۷۶هـ ق زندان |
| **صدر خان ختک** | خوشحال خان ختک | ۱۰۶۵هـ ق | پيښور اکوړا | ۱۱۲۴ هـ ق |
| **عبدالقادر خان حتک** | خوشحال خان ختک | ۱۰۶۳هـ ق | پيښور اکوړا | ۱۱۲۵هـ ق |
| **سکندرخان ختک** | خوشحال خان ختک | ۱۰۶۸هـ ق | پيښور اکوړا | ۱۱۱۶هـ ق |
| **افضل خان ختک** | اشرف خان هجري | ۱۰۷۵هـ ق | پيښور اکوړا | ۱۱۶۱هـ ق |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| **حلیمه خټک** | خوشحال خان ختک | ۱۰۶۵هـ ق | پېښور اکوړا | ۱۱۳۶هـ ق |
| **غني خان** | خان عبدالغفار خان | ۱۲۹۳هـ ق | پېښور هشتنغری اتمانزو کلی | ۱۳۷۵هـ ق |
| **سید بهاوالدین مجروح** | سید شمس الدین مجروح | ۱۳۰۶هـ ش | کونړ اسمار | ۱۳۶۷هـ ش پېښور |
| **حاجي جمعه بارکزی** | ؟ | ؟ | کندهار زاړه ماشور کلی | ۱۲۵۹هـ ق |
| **گل پاچا الفت** | میر سید پاچا الفت | ۱۲۸۸هـ ش | پغمان عزیز خان کڅ | ۱۳۵۶هـ ش |
| **مراد علي صاحب زاده** | حضرت عبدالرحمن سیلاني | ۱۲۲۳هـ ق | ننگرهار کامه | ۱۲۹۷هـ ق |
| **بایزید روښان** | شیخ عبدالرحمن | ۹۲۶ ق | پنجاب جالندر | ۹۸۵ق |
| **محمد موسی شفیق** | محمد ابراهیم کاموي زوي | ۱۳۰۸هـ ش | ننگرهار | ۱۳۵۷هـ ق ثور کودتا |
| **عبدالحی حبیبي** | ؟ | ۱۲۸۵هـ ش | کندهار | ۱۳۶۳هـ ش |
| **ارزاني خوشکي** | برهان | ۹۲۹هـ ق | پنجاب قصور | ۱۰۲۸هـ ق |
| **سلیمان ماکو** | بابرخان صابزي ماکو | ؟ | کندهار ارغستان | ؟ |
| **علي محمد مخلص** | ابابکر کندهاري شینواری | ۱۰۲۰-۱۰۱۵هـ ق | کندهار | ۱۰۸۰هـ ق |
| **همزه شینواری** | ملنگ بازمیر | ۱۲۸۶هـ ش | پښتونخوا خیبر لواړگی | ۱۳۷۲هـ ش |
| **پیر محمد کاکړ** | ؟ | ؟ | شاولي کوټ حضرت جي زیارت | ۱۲۱۶هـ ق |
| **مولوي محمد صالح هوتک** | فیض محمد هوتک | ۱۲۶۹هـ ش | کندهار | ۱۳۳۹هـ ش کندهار |
| **قیام الدین خادم** | ملا حسام الدین خادم | ۱۳۲۵هـ ش | ننگرهار کامه | ۱۳۵۸هـ ش زرشوي کلی |
| **سید شمس الدین مجروح** | سید حضرت شاه | ۱۳۲۳ هـ ش | شینکوړک | ۱۳۸۱هـ ش امریکا |
| **عبدالرحمن پژواک** | قاضي عبدالرحمن | ۱۲۹۷ هـ ق | ننگرهار سرخرود | پېښور |
| **عبدالشکور رشاد** | عبدالغفور خان | ۱۳۰۰هـ ش | کندهار پنجواي | ۱۳۸۳هـ ش کندهار |
| **عبدالروف بېنوا** | مفتي عبدالله | ۱۲۹۲هـ ش | کندهار | ۱۳۶۳ نیویارک |
| **عبدالحمید مومند** | ؟ | ۱۰۸۳هـ ق | | ۱۱۴۸هـ ق |
| **اخوند درویزه** | گدای | ۱۹۴۰هـ ق | ملیزو | ۱۰۴۸هـ ق |
| **پوهان صدیق الله ریښتین** | مولوي تاج محمد | ۱۲۹۸هـ ق | مومند سره قمر | ۱۳۷۷ هـ ق بېهسود |
| **شاه حسن هوتک** | میرویس نیکه | ۱۱۱۴هـ ق | زابل | ۱۱۵۱ هـ ق |
| **محمد هوتک** | داود خان هوتک | ۱۰۸۴ هـ ق | کندهار کوکران | ۱۱۵۰ هـ ق |
| **حسین (بلخي ابن سینا)** | عبدالله | ۳۷۰ ق | بخارا ابشانه | ۴۲۸ ق همدان |
| **محمد هاشم میوند وال** | ملا عبدالحکیم | ۱۲۹۸ل | غزني مقر | ۱۳۵۲ ش |
| **ملنگ جان(محمد امین)** | عبدالشکور | ۱۲۹۳ ل | ننگرهار بېهسود | ۱۳۳۶ل ننگرهار |

**دشاعرانو اثار**

| شاعر | اثار | شاعر | اثار |
|---|---|---|---|
| **خوشحال خان ختک** | ستار نامه(رنتبور)زندان ۱۰۷۴ کال کې ولیکه،فراقنامه،طب نامه،فراخنامه،باز نامه،بیاض. | **شمس الدین کاکړ** | سراج الموتي |
| **پیر محمد کاکړ** | معرفت الافغان ۱۱۹۵ ش تالیف | **حافظ گل محمد مرغزي** | احمد شاهي شاهنامه |
| **میا اکبر شاه** | آزادئ تلاش(سفر نامه) | **شیخ قاسم** | اولیا افغان |
| **سلمان ماکو** | تذکرة الاولیا۶۱۲ ه ش تالیف(نثر بنه) | **ملا فیض محمد اخونذاده** | روضة المجاهدین(نظم) |
| **محمد هوتک** | پټه خزانه ۱۱۴۱-۴۲ هـ ق تالیف | **صدیق الله ریښتین** | نومیالي شاعران |
| **شیخ متي** | خدای مینه | **مومین پتوال** | اوسني شاعران |
| **علي محمد مخلص** | سراج الافغان،مراة الافغان،حالنامه | **کبري مظهري** | پېنتني شاعران او لیکوالان |
| **گوهر خان ختک** | قلب السیر(ژباړه) | **عبدالحکیم اثر** | تیر هیر شاعران |
| **ملا نور محمد غنجی** | نافع المسلمین | **مولوي احمد** | ادم خان درخانی |
| **عبدالاکبر اکبر** | دری یتیمان(ډرامه) | **افضل خان ختک** | تاریخ مرصیع،عیار دانش |
| **سید خیال بخاري** | پښتو صرف نحوه | **حسیب گل کاکا خېل** | نقش نگین |
| **شیخ کټه** | لرغوني پېښتانه | **محمد هاشم سرواني** | سالو وږمه(لومړی نثري کتاب) |
| **محمد بن علي بستي** | تاریخ سوري | **میا محمد یوسف** | توبة النصوح |
| **عبدالروف بېنوا** | اوسنی لیکوال،پریشانه افکار،پېنتني میرمني | **شیخ بوستان بړیڅ** | بوستان |

| | | | |
|---|---|---|---|
| **ابن سینا** | الشفاء،القانون | **دوست محمد کاکړ** | غرغښت نامه |
| **شیخ بوستان** | بوستان الولیا | **میا آزاد خان** | د مرې پیغام |
| **محمد صدیق روهي** | د پښتو ادبیاتو تاریخ | **موسی شفیق** | پیغام،عبقریان،ننګرهار شاعران |
| **بي بي نیکبخته** | رشادالفقرا | **سید راحت زاخیلي** | کونډه نجلی(لومړی لنډه کیسه ) |
| **مثل خان راهي** | دخوشحال خان دین ګلونه | **عبدالحی حبیبي** | توریالي پښتانه |
| **اریون یون** | وړمې وړمې | **شیخ سعدي** | پښتو بوستان |

## پښتو ادب کې بهرني شاعران

| نوم | ځای | زیږیدنه | اثار |
|---|---|---|---|
| **بوریس اندرییویچ** | جرمني | ۱۸۰۵م | پښتو منتخبات |
| **هنري جورج راورټي** | انګلستان | ۱۸۲۵م | ګلشن روه |
| **هنري والتر بیلیون** | هندوستان | ۱۸۳۴م | پښتو ګراګر،پښتو ډکشنري |
| **تور بورن** | بریتانیه | ؟ | بنو زموږ افغاني سرحد |
| **جیمز ډار مستیتر** | فرانسیه | ۱۸۴۹م | پښتونخوا شعر هار بهار |
| **پروفیسر مارګن ستیرن** | ناروی | ۱۸۹۲ | پښتو ګرامر |

## پښتو قلمي نسخې

| ځای | نسخو شمیر | | |
|---|---|---|---|
| **پښتو اکاډمی** | ۵۲۰ نسخې | **انګلستان** | ۱۶۹ نسخې |
| **علوم اکاډمي** | ۱۷۷ نسخې | **هند** | ۱۴۴ نسخې |
| **افغانستان ملي ارشیف** | ۱۲۶ نسخې | **پخواني شوروی** | ۵۰ نسخې |

## پښتو ادب کې ښځو ونډه

| نوم | پلار | ځای او زیږیدنه | وفات او ځای | اثار |
|---|---|---|---|---|
| **نیکبخته** | شیخ الله داد | | | آرشاد الفقراء |
| **سایره** | سید زیور شاه | | ۱۲۹۲ ش | |
| **زرغونه کاکړ** | ملادین محمد | کندهار پنجوای | | بوسنان د فارسي ژباړه |
| **حمیده** | سید حضرت شاه | ننګرهار | ۱۲۹۷ش | |
| **هاذفه هروي(کشور)** | محمد عثمان درانی | هرات | ۱۳۴۰ش | اثار هاذفه هروي |
| **رابعه بلخي** | بابر شاه معصري وه | کندهار | ۹۲۰ه ق | |

❖ **ابجد توري**

دشمېر یو خاص ډول ده چې زموږ کلاسیکه شاعرانو او لیکوالانو به د وخت او نېټې لپاره کارول.

مجموعه:**(ابجد هوز حطی کلمن سعفص قرشت ثخذ ضظغ)**

## ابجد توري

| ا | ب | ج | د | ه | و | ز | ح | ط | ی |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | ۲ | ۳ | ۴ | ۵ | ۶ | ۷ | ۸ | ۹ | ۱۰ |
| ک | ل | م | ن | س | ع | ف | ص | ق | ر |
| ۲۰ | ۳۰ | ۴۰ | ۵۰ | ۶۰ | ۷۰ | ۸۰ | ۹۰ | ۱۰۰ | ۲۰۰ |
| ش | ت | ث | خ | ذ | ض | ظ | غ | | |
| ۳۰۰ | ۴۰۰ | ۵۰۰ | ۶۰۰ | ۷۰۰ | ۸۰۰ | ۹۰۰ | ۱۰۰۰ | | |

## کانکور سوالونه

1. په لاندې جملو او عبارتونو کې متل په نښه کړئ؟
①سپین سترګې کول ②دښو غوښو ښه شوروا وي ③پوزه پرې کول ④باد پیمانه کول
2. لاندې جملو کې مفرد نوم په نښه کړئ؟
①غلې ②کمپلې ③ستن ④برستنې
3. (سرېتوب وي محترم په هر لباس کې/په زرو جامو کې وي که په کرباس کې)پورتني بیت کې قافیه کلمه په نښه کړئ؟
①لباس،کرباس ②به،که ③کې،کې ④وي،وي
4. (یو له بله محبت مهرباني وي/د(الفت)هیله او فکر جهاني وي)پورته بیت کې ردیف په نښه کړئ؟
①وي،وي ②یو له،بله ③یو له،بله ④مهرباني ،جهاني
5. «زره سوی»کلمې جمعه بڼه په نښه کړئ؟
①زره سوي ②زره سوی ③زره سوی ④زره سوي
6. واک لغت سمه معنا په نښه کړئ؟
①اختیار ②سور ③انتقام ④ساتل شوی
7. هغه مبالغه چې مدعا او مقصد دعقل او هم دعادت له مخې امکان ولري کوم دول ده؟
①اغراق ②غلو ③لف ونشر ④تبلیغ
8. (په سترګو روند شي راته کوره/لکه نوي میاشت کره ولاړه یمه) دتشبیه ادات په نښه کړئ؟
①نوی ②لکه ③راته ④کره
9. (چې دسپرلي ګلونه ګورم/ماته دګل په شان جانان رایادوینه)دتشبیه ادات په نښه کړئ؟
①ګل ②سپرلي ③په شان ④ټول سم دي
10. هغه کوم شخص وو چې دبیان علم په بارکې یې ځېرنې وکړې؟
①ابو عبیده مثنی ②عبدالله بن معتز ③الف سم ده ④هیڅ یو
11. هغه پوه چې دیوی معنا دلالت په بیلابیلو لارو راښي عبارت دی له؟
①نحوه ②جمله ③بیان ④بدیع
12. مجاز القران دچا اثر ده؟
①ابو عبیده مثنی ②عبدالله بن معتز ③رحمان بابا ④هیڅ یو
13. هغه پوه یا خو مشترک صفتونه چې د مشبه او مشبه به تر منځ موجود وي عبارت دي له؟
①تشبیه ادات ②تشبیه وجه ③تشبیه ④بدیع
14. (لکه خوند لري خوري خبري/په شکرو کې نشته هسې خوند)تشبیه وجه په نښه کړئ؟
①خوند ②خبري ③خوږوالی ④لکه
15. هغه تشبیه دڅه په نامه یادیږي چې مشبه او مشبه به یو ځای واقع وي؟
①ملفوفه ②مفروقه ③مرسله ④موکده
16. هغه تشبیه دڅه په نامه یادیږي چې یو بیت کې مشبه او بل بیت کې مشبه به واقع وي؟
①مفروقه ②ملفوفه ③مرسله ④موکده
17. هغه وینا چې وزن او قافیه څخه آزاد وي دڅه په نامه یادیږي؟
①نثر ②نظم ③شعر ④هیڅ یو
18. سالو ورمه دچا اثر ده؟
①رحمان بابا ②ابو محمد هاشم ③خوشحال خان ④احووند درویزه
19. مسجع نثر بنست چا ایښی؟
①رحمان بابا ②خوشحال خان ③بایزید روښان ④حمید مومند
20. بایزید روښان دچا زوي وو؟
①خوشحال خان ②قاضي عبدالله ③شیخ متي ④ټول غلط دي
21. د«بډای» لغت سمه معنا په نښه کړئ؟
①فقیر ②شتمن ③باغي ④هیڅ یو
22. د اشیا لغت سمه معنا په نښه کړئ؟
①شیان ②څیزونه ③دواړه سم دي ④ټول سم دي
23. د «بدي» لغت ضد په نښه کړئ؟
①خراب ②اباد ③نیکي ④بد
24. د «هوسا» لغت ضد په نښه کړئ؟
①ناراm ②آرام ③لری ④ایلا
25. «لندیز » لغت مترادفه کلمه په نښه کړئ؟
①اوږد ②لنډ ③دقیق ④خلاصه
26. لور مترادف کلمه په نښه کړئ؟
①پاس ②کوز ③ټیټ ④ګوښه
27. کاظم خان شیدا دچا کروسی ده؟
①افضل خان ②خوشحال خان ③اشرف خان ④قادر خان
28. کاظم خان شیدا دیوان په کوم ځای کې چاپ شو؟
①افغانستان ②پښتونخوا ③دواړه سم دي ④ټول سم دي
29. هغه منظوم یا منثور وینا چې دحضرت محمد (ص) ستاینه پکې شوي وي عبارت دی له؟
①حمد ②نعت ③نظم ④دعا
30. عبدالرحمن بابا شعرونو کې دکوم شاعر نومونه یاد شوي دي؟
①میرزا خان انصار ②دولت لوانی ③خوشحال خان خټک ④ټول سم دي
31. (هسې مه وایه چې زه یم په جهان کې/پیداکړی خدای دسر دپاسه سر ده)پورته بیت شاعر په نښه کړئ؟
①خوشحال خان ②عبدالرحمان بابا ③پیر روښان ④رحیم داد
32. نحوه څه دول کلمه ده؟
①فرانسوي ②عربي ③پښتو ④دری
33. هغه چې دګرامري توکه دیوځلواکی معنا لرونکي جملي برخه ګڼل کیږي او په جمله کې دهغه په باب خبر ورکول کیږي په کوم نوم یادیږي؟
①خبر ②مسند ③مبدا ④جمله
34. هغه نوم چې دیو څخه ډیر څیزونه نوموي په کوم نوم یادیږي؟
①جمعه نوم ②مفرد نوم ③عام نوم ④خاص نوم
35. ځنګلونه څه دول نوم ده؟
①خاص ②مفرد ③جمع ④هیڅ یو
36. شیخ متي د مریني کال په نښه کړیئ؟
①۶۸۸ق ②۶۸۵ق ③۶۷۸ق ④۶۱۸ق
37. هغه ادبي صنعت چې شاعر یو مطلب څرګند کړي ورسته دیو خاص عرض لپاره دځېلي خبرې ګرځي دڅه په نامه یادیږي؟
①طباق ②لف نشر ③رجوع ④تلمیح
38. (بې دیار دمخې نه ویدم چې کسی/دواړه کسی ملک دلمر په شغلو کسی)دغه بیت کې کوم ادبي صنعت راغلی؟
①تلمیح ②تجنس ③طباق ④لف نشر
39. د «ګالل» لغت معنا په نښه کړئ؟
①خوړل ②پالل ③تېرول ④ځنګول
40. تذکرة الاولیا کتاب دپښتو ادب کومې دورې پورې اړه لري؟
①ارغوني ②کلاسیکه ③معاصره ④ټول غلط
41. (تر کې زیات پیغمبران دي/ځوک نیبان ځوک مرسل دي)پورته بیت دکوم شاعر ده؟
①خوشحال خان خټک ②بایزید روښان ③بیټ نیکه ④حمید مومند
42. هغه بیت چې شاعر خپل بیت په څو برخو وویشي او هره برخه یې دبلې په مقابل کې راوړي دڅه په نامه یادیږي؟
①المربع ②تضمین ③ترصیع ④قلب
43. هغه شعر چې د دوو څخه زیاتې قافیه ولري دڅه په نامه یادیږي؟

①ترصیع ②تجنس ③المربع ④ذوالقوافی

44. د دین کار په ده تمام شو ـ خاتمت دده په نام شو په دې بیت کې ردیف په نښه کړئ؟

①شو شو ②تمام خاتمت ③ددین دده ④تمام نام

45. د(ګومارل)کلمې مترادف په نښه کړئ؟

①تیغ ②برچه ③چاقو ④موظف کول

46. په لاندې لنډۍ کې مشبه په نښه کړئ(دجنګونو په دوزخ کې جنتي افغانان وسول ـ د باروتو سرو لمبو کې د سولې مرغان وسول)؟

①مرغان ②سوله ③سرې لمبې ④باروتو

47. په لاندې بیت کې د مشبه تورې په نښه کړئ(راشه یو ځل ختک ګوره په دکن کې ـ چې له هجره ډیر ناځیز لکه زره شي)؟

①یو ځل ②ډیر ③دکن ④لکه

48. په لویدیځ ادب کې لنډې کیسې ته څه وایي؟

①شارټ ستوري ②ناول ③رومان ④ډرامه

49. اشلوک جمعه بڼه په نښه کړئ؟

①اشلاکات ②اشلوک ③اشلوکونه ④اشلاک

50. (جوګه)لغت سمه معنی په نښه کړئ؟

①لایق ②وړیا ③باور ④سیالان

## جواب پاڼه

| سوال | جواب | سوال | جواب | سوال | جواب | سوال | جواب | سوال | جواب |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | 2 | ۱۱ | 1 | ۲۱ | 2 | ۳۱ | 3 | ۴۱ | 1 |
| ۲ | 3 | ۱۲ | 1 | ۲۲ | 4 | ۳۲ | 2 | ۴۲ | 3 |
| ۳ | 1 | ۱۳ | 1 | ۲۳ | 1 | ۳۳ | 3 | ۴۳ | 3 |
| ۴ | 1 | ۱۴ | 2 | ۲۴ | 3 | ۳۴ | 1 | ۴۴ | 2 |
| ۵ | 1 | ۱۵ | 3 | ۲۵ | 3 | ۳۵ | 3 | ۴۵ | 4 |
| ۶ | 1 | ۱۶ | 2 | ۲۶ | 4 | ۳۶ | 2 | ۴۶ | 2 |
| ۷ | 4 | ۱۷ | 1 | ۲۷ | 2 | ۳۷ | 3 | ۴۷ | 4 |
| ۸ | 3 | ۱۸ | 1 | ۲۸ | 4 | ۳۸ | 4 | ۴۸ | 1 |
| ۹ | 2 | ۱۹ | 2 | ۲۹ | 2 | ۳۸ | 3 | ۴۹ | 4 |
| ۱۰ | 3 | ۲۰ | 2 | ۳۰ | 2 | ۴۰ | 1 | ۵۰ | 1 |